# د افغـــــانستان اســــلامي امــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۱۵/ محرم الحرام /۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۲۰ /سرطان /۱۴۰۴هـ، ش**

# د نیکانو او صالحینو سره د ملګرتیا دُنیوي او اُخروي ګټې او فایدې

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمد لله ، رب العالمین ، والصلاة والسلام علی سید الأنبیاء والمرسلین ، وعلی آله وصحبه أجمعین ، ومن تبعهم بإحسان إلی یوم الدین، أما بعد:قال الله سبحانه وتعالی: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ)[التوبة: ١١٩]

**درنو حاضرینو او محترمو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

**درنو حاضرینو !**

زمونږ د نن ورځ د تقریر او بیان موضوع د نیکانو او صالحینو سره د ملګرتیا د دُنیوي او اُخروي ګټو او فایدو په هلکه ده.

او د تقریر او بیان په پای کې به دګاونډیو هیوادونو څخه د راویستل شوو مهاجرینو په اړه هم تاسوته ځانګړې معلومات او سپارښتنې ولرو.

الله جل جلاله د نورو انسانانو او د ملګرو پیروي کول او د هغو د عاداتو، افکارو، سلوک، رفتار او کردار او د اخلاقو تقلید کول دانسان په طبیعت کې اچولی دی او انسان د ملګري د ملګرتیا په وجه د هغه د عملونو، خویونو او خصلتونو، سلوک او کردار د اثر لاندې راتلل د انساني طبیعت تقاضا ده.

د نیکانو او صالحینو سره د ملګرتیا څخه مقصد د هغو کسانو سره ناسته ولاړه کول دي، چې ته د هغوی د ملګرتیا په برکت الله تعالی ته نږدې شئ او د هغه رضا حاصله کړئ او نیکان او صالحین تاته نیکه لار دروښایې او دالله تعالی دین درته دروښایي.

دا په تجربې ثابته ده، چې که چېرې د کوم انسان ملګري نیکان او صالحان خلک وي ؛ له هغه څخه به نیک عادتونه، صالح او غوره چال چلند، سالم افکار او درست عقاید زده کړي او یو صالح انسان به ورڅخه جوړ شي او که چیرې د چا دمجلس ملګري داسې اشخاص وي چې د هغوی کړنې، چال چلند او تعامل ، افکار او اعمال د شریعت خلاف او بد وي ؛ نو هرومرو به د هغوی ملګرتیا دده په ژوند باندې منفي اثرات پرې باسي او دی به هم د ملګرو د چال چلند تر اغیز لاندې راځي او د شریعت خلاف چال چلند، د شریعت خلاف افکار، د شریعت خلاف عقاید او مفکورې به دده په زړه کې ځای ونیسي او ناوړه کړنې او بد سلوک به دده عادت ګرځي. د همدې امله داسلام مقدس دین د نیکانو ،لکه علماء کرام، زاهدان او عابدان، په شریعت برابر عارفان او صالحینو په ملګرتیا او دهغوی په مجلسونوکې پر ناستې ټینګار کړی دی . الله جل جلاله فرمایلي دي چې د ریښتینو او صادقو خلکو سره اوسیږئ. (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ)[التوبة: ١١٩]

ترجمه: ای هغوکسانو چې ایمان یې راوړی دی ! و ویر بږ ئ تاسې له الله نه او شئ (ملګري) سره له صادقانو.

الله تعالی مؤمنانو ته په دې امر کړی دی چې اوسیږئ له صادقِینو سره. تفسیر البحر المحیط ـ (٥ /٩١)

شـیخ الاسلام عز بن عبدالسلام رحمه الله ددې آیت په معنا کې لیکي:( من صدقت نیته وقوله وعمله وسره وعلانیته) (د هغه چا سره ملګري اوسئ) چې هغوی په نیت کې ریښتینی وي او په وینا کې ریښتیني وي او په عمل کې ریښتینی وي او په پټه او په ښکاره دواړو حالتونو کې ریښتینی وي.تفسیر العز بن عبد السلام (ص: ٤٤١)

ابوبکر ابن العربي رحمه الله د صادقِینو په تعریف کې وایې چې صادقین هغه خلک دي چې ظاهر او باطن دواړ یې سره برابر وي او دا تعریف؛ ځکه حقیقت لري، چې ریښتینولي د صادقینو لپاره غایه او منتهی ګڼل کیږي او په دې صفت سره عقیدوي نفاق له منځه ځي او عملي مخالفت هم له منځه ځي او دا دابو بکر او عمر رضي الله عنهما او د هغوی په شان د نورو اصحابو کرامو په حق کې صدق کوي. أحکام القرآن لابن العربي (٤ /٤٠٩)

په یو بل مبارک آیت کې راځي چې هغه خلک چې د مشرکانو، ګمراه کوونکو، فاسقانو... ملګرتیا یې کړي وي او د هغوی دملګرتیا له امله بې لارې شوې وي، هغوی به د قیامت په ورځ د زیات افسوس په وجه په خپلو لاسونو چکونه لګوي او وایې به: کاش چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او نیکان خلک مې په ملګرتوب سره نیولي وای او د شریرو خلکو سره مې ناسته پاسته نه وای کړی!. الله تعالی فرمایلي دي: وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَى يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلا * يَا وَيْلَتَى لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلانًا خَلِيلا * لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلإِنْسَانِ خَذُولا)[الفرقان: ٢٧-٢٩]
ترجمه: او (یادکړه ای محمده! هغه دقیامت ) ورځ چې خوله به لګوي ظالم پر دواړو لاسونو خپلو (له ډیره غمه او افسوسه او حسرته) وایي به(په قیامت کې): ای کاش کې نیولې مې وی له رسوله (د الله سره د نجات حقه ) لاره. ای هلاکه ای عذابه ای خرابی زما (راشه دغه دې وخت دی) کاش کې نه مې نیولې فلانکی سړی دوست خپل.خامخا په ګمراه کړی(یې) وم زه له ذکره پند (قرآن) وروسته له هغه کله چې راغی ماته (دغه ذکر، نو فرمایې الله) او دی شیطان لپاره د انسان لغزوونکی غولوونکی.
ددې آیت سـبب نزول د عقبة بن أبی معیط، چې امیه بن خلف ملګری ؤ د هغه په حق کې نازل شوی دی؛ خو امام قرطبي رحمه الله وایې: (فلاناً) د امیه بن خلف څخه کنایه ده او د هغه نوم صراحتاً ځکه ذکر نشو، ترڅو دا وعید په هغه پورې مخصوص نشي او هر هغه چاته شامل شي، چې د امیه بن خلف په شان کارونه کوي .امام مجاهد رح وایې: ظالم هر ډول ظالم ته شامل دی. القرطبي (١٣ /٢٦)
همدارنګه په حدیث شریف کې راځي:عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ ». سنن أبی داود(٤ /٤٠٧)
ژباړه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې بیشکه نبي علیه السلام وفرمایل: سړی د ملګري په دین (یعنې په عادت، طریقه او سیرت) د خپل ملګري دی، نو پس ودې ګوري یو د ستاسو څخه، چې د چا سره ملګری دی؟.تحفة الأحوذي (٧ /٤٢)
په یو بل مبارک حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِى سَعِيدٍ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « لاَ تُصَاحِبْ إِلاَّ مُؤْمِنًا وَلاَ يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلاَّ تَقِىٌّ ». سنن أبی داود-( ٤ /٤٠٧)، سنن الترمذي (٤ /٦٠٠)
ژباړه: د ابو سعید خُدري رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه د نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: ملګرتیا مه کوه! مګر له مؤمن سره او ودې نه خورئ طعام ستا مګر متقي انسان.
امام غزالي رحمه الله ددې حقیقت په اړه وایې: او د دُنیا حریص سره ملګرتیا وژونکي زهر دي ؛ ځکه چې د طبیعتونه خِقلت په تَشبُّه او اقتداء باندې شوی دی ، بلکې یو طبیعت له بل طبیت څخه غلا کوي په داسې طریقې سره چې بل طبیت ورباندې خبر هم نه وي، نو ددنیا حریص په بل انسان کې ددنیا حرص تحریکوي او د زاهدانو سره ناسته په انسان کې ددنیا بې رغبتي پیدا کوي. د همدې امله ددنیا د طالبِینو سره ناسته او ملګرتیا مکروه ده او دآخرت د راغبِینو سره مجلس او ملګرتیا کول مستحب ده .الاحیاء(٢ /١٧٣)

همدا مطلب په يو حديث شريف کې داسې تمثيل شوی دی:( عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم- قَالَ إِنَّمَا مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالْجَلِيسِ السَّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً» صحيح مسلم(٨ /٣٧)

ژباړه: د ابوموسی رضي الله عنه څخه روايت دی هغه د نبي عليه السلام څخه روايت کوي،چې بيشکه نبي عليه السلام وفرمايل بيشکه مثال د صالح ملګري او د بد ملګري په شان د مشکو ددرلودونکي او پوکوونکی داهنګر د نغري(اهنګر) دی، د مشکو درلودونکی به يا درته مفت څه درکړي او يا به ورڅخه څه واخلئ او يا به وموميٰ له هغه سره خوشبويي او د پوکوونکي داهنګر د نغري(اهنګر) به يا جامې در لره وسيزئ او يا به وموميٰ له هغه سره بد بوی. (لوګی).

امام نووي رحمه الله ددې حديث په شرحه کې وايي:(وفيه فضيلة مجالسة الصالحين وأهل الخير والمروءة ومكارم الاخلاق والورع والعلم والأدب والنهي عن مجالسة أهل الشر واهل البدع ومن يغتاب الناس او يكثر فجره وبطالته ونحو ذلك من الانواع المذمومة).شرح النووي على مسلم(١٦ /١٧٨)

ژباړه: په دې حديث کې د نيکانو او صالحينو، اهل خير او د مروءت د څښتنانو، د غوره اخلاقو درلودونکو، د تقوی دارانو، د اهل علم او د آدب خاوندانو سره د مجلس او کيناستلو د فضيلت بيان دی او (په دې حديث کې) نهی ده د اهل شر ، اهل بدعت، غيبت کوونکو، د زياتو ګناه کوونکو او د بېکارانو او دداسې نورو مذمومو خويونو درلودونکو اشخاصو سره د مجلس او کيناستلو څخه.

حافظ ابن حجر رح ددې حديث په آخر کې ليکي: په دې حديث کې نهی ده د هغو خلکو سره د ناستې او ملګرتيا څخه چې په دنيا کې او آخرت کې زيان لرونکي وي او ترغيب ورکوي په ملګرتيا او مجلس د هغو خلکو کې چې د هغوی مجلس په دنيا او آخرت کې نفع او خير رسوونکی وي.فتح الباري- (٤ /٣٢٤)

علامه ملا علي القاری رح ددې حديث په شرحه کې وايې: په دې حديث کې د نيکانو او علماوو سره په ناسته کې او ملګرتيا کې ترغيب پروت دی ؛ ځکه چې د نيکانو او صالحينو سره په ناسته کې دُنيوي او أُخروي نفع او فائده نغښتې ده او په دې حديث کې د شريرو او فاسقانو له ملګرتيا او مجلس څخه منع پرته ده ؛ ځکه چې د شريرو او فاسقانو په ملګرتيا کې او مجلس کې دُنيوي او أُخروي ضرر پروت دی. د نيکانو خلکو ملتيا او مصاحبت انسان خير ته رسوي او د اشرارو ملتيا او مصاحبت شر پيدا کوي. ددې مثال داسې دی لکه چې شمال په خوشبويه محل تير شي؛ نو خوشبويه هواء پرېږدي اوکوم شمال چې په مرداری تير شي؛ نو له ځانه سره د بدبويي حمل کوي. نو ځکه علماء وايي: چې که چيرې احمقانو سره کيناستې ؛ نو په تا پورې به احمقي ونښلي چې له تاسره به مناسبه نه وي او که چيرې د عاقلانو سره کيناستې نو په تاکې به عقل او ادب ځای ونيسي.؛ ځکه فساد ډير ژر خلکو ته منقل کيږي او په طبائعو کې ځای نيسي. خلاصه دا چې ملګرتيا او ناسته ولاړه ډير اثر لري. مرقاة المفاتيح(١٤/ ٣٠٧)
هرکله چې سپي داصحاب کهفو سره ملګرتيا وکړه، الله تعالی يې په قرآن کريم کې الله تعالی ذکر وکړ.
امام قرطبي رح ددې آيت په تفسير کې ليکي:(وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ)[الكهف:١٨]
هر کله چې د اولياوو او صالحينو د ملګرتيا او اختلاط په وجه بعضې سپي دومره عالي درجاتو ته رسيږي؛ آن تر دې پورې چې الله تعالی د هغه ذکر په قرآن کريم کې کوي، نو ته څه فکر کوئ په حق د هغو مؤمنانو کې، چې د مؤحدينو اولياوو او نيکانو سره اختلاط کوونکي وي؟! .تفسير القرطبي (١٠ /٣٧١)

عبدالرحمن بابا وايي: په نصيحت دناصحانو به سيم و زر شي. که وي کاڼي او يا بوټی د سحرا.
مولانا رومـــي وايي: صحبت صــــالح، ترا صـــالح کند وصحبت طـالح ، ترا طالح کند.
سعدي شيرازي وايي:
جمال همنشــــــين بر من اثر کرد وګرنه، من همان خاکم که هستم.

بالعکس د شريرو او فاسدو او فاسقانو په ملګرتيا کې ډير زيات دنيوي او اخروي تاوانونه او نقصانونه پراته دي.

امام ماوردي رحمه الله وايي چې د ځینو حکیمانو وینا ده: (مُخَالَطَةُ الْأَشْرَارِ عَلَى خَطَرٍ ، وَالصَّبْرُ عَلَى صُحْبَتِهِمْ كَرُكُوبِ الْبَحْرِ ، الَّذِي مَنْ سَلِمَ مِنْهُ بِبَدَنِهِ مِنْ التَّلَفِ فِيهِ ، لَمْ يَسْلَمْ بِقَلْبِهِ مِنْ الْحَذَرِ مِنْهُ) . أدب الدنيا والدين، للماوردي (ص: ٢٠٩)

ژباړه: د اشرارو سره اختلاط ډېر زیات خطر لري او د اشرارو خلکو په ملګرتیا صبر کول لکه په بحر کې سفر کولو په شان دي ، که چیرې د چا ځان په بحر کې له تلف کیدو څخه خلاص شي، خو قلباً به د بحر د ویرې څخه سالم پاتې نشي.

## نیکان او صالحین چاته ویل کیږي ؟

شیخ الاسلام عزبن عبدالسلام رحمه الله لیکلي دي: صالح شخص هغه څوک دی چې عمل یې نیک وي یا داچې پټ او ښکاره حالتونه نیک وي. تفسیرابن عبد السلام (١/ ٣٩٩)

امام نووي رحمه الله لیکلي دي: صالح هغه شخص دی چې قائم وي دالله تعالی پر حقوقو او قائم وي په حقوق العباد باندې. شرح النووي على مسلم (١٦/ ٣٨)

علامه ابن نُجیم رحمه الله دامام خصاف رحمه الله څخه د صالح تعریف داسې نقل کړی دی:(وفي أَوْقَافِ الْخَصَّافِ الصَّالِحُ من كان مَسْتُورًا ليس بِمَهْتُوكٍ وَلَا صَاحِبَ رِيبَةٍ وكان مُسْتَقِيمَ الطَّرِيقَةِ سَلِيمَ النَّاحِيَةِ كَامِنَ الْأَذَى قَلِيلَ السُّوءِ بِمُعَاقِرٍ لِلنَّبِيذِ وَلَا يُنَادِمُ عليه الرِّجَالَ وَلَيْسَ بِقَذَّافٍ لِلْمُحْصَنَاتِ وَلَا مَعْرُوفًا بِالْكَذِبِ).البحر الرائق (٦/ ٢٨٧)، حاشية ابن عابدين (٤/ ٤٧٤)

ژباړه: د امام خصاف د اوقافو په کتاب کې دي: صالح هغه څوک دی، چې حالت یې پټ وي، عزت به یې نه وي زائل شوي او د شک څښتن به نه وي (یعنې په خلکو به شک نه کوي یا داچې خلک به وروباندې بدګمانه نه وي)، د نیت له اړخه به روغ وي، پټوونکی به وي دضرر رسولو ، د ممیزو داوبو د کمې اندازې څښونکی به وي، په پټه کې به سړي وروباندې نه راجمع کیږي، په پاکدامنو ښځو به تهمت لګوونکی نه وي او په دروغو ویلو به مشهور نه وي.

علامه خطیب شربیني د صالحانو په تعریف کې لیکلي دي: ( الصالح الكامل هو الذي لا يعصي الله تعالى ولا يفعل معصية ولا يهم بمعصية وهذه درجة عالية).تفسیر السراج المنیر (٣/ ٥١)

ژباړه: کامل صالح هغه شخص دی چې د الله تعالی نافرماني نه کوي او ګناه هم نه کوي او دګناه کولو قصد هو نه کوي چې دا ډېر لویه درجه ده.

د امام خطیب شربیني له تعریف څخه معلومیږي، لکه څرنګه چې په علماوو او فقهاوو کې درجات او طبقات شته دی دمثال په ډول د لومړی طبقې عالمان او فقهاء، ددوهمې طبقې عالمان او فقهاء...، دارنګه په نیکانو او صالحینو کې هم درجات شته ، د کاملې درجې نیکان، د متوسطې درجې نیکان او دادنی درجې نیکان او صالحین .بیا هم په هره درجه کې چې قرار ولري؛ ورسره ملګرتیا زیاته ګټه لري.

## د نیکانو سره د ملګرتیا ګټې او فایدې:

د نېکانو او صالحینو سره ملګرتیا په خپل ذات کې د نیکو خلکو له نښو څخه ده، ځکه چې نیکان او صالحین نه خوښوي، مګر نیکان او بد خلک نه خوښـوي ؛مګر بد خلک. همدا راز د نېکانو او صـالحینو سره ملګرتیا د اسـلامي اخلاقو څخه ده. د نېکانو او صالحینو سره ملګرتیا د مؤمنانو سره د دوستۍ (ولاء) برخه ده، او الله تعالی د مؤمنانو سره په ملګرتیا امر کړی دی. او د نیکانو او صالحینو سره ملګرتیا او دهغو په مجالسو ته حاضریدل زیاتې ګټې او فایدې لري ، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**۱-د نیکانو او صالحینو په ملگرتیا سره او د هغوی په مجلس کې په اشتراک سره دمسلمان گناهونه ببښل کیږي.**

په متفق علیه حدیث کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً يَطُوفُونَ فِي الطُّرُقِ يَلْتَمِسُونَ أَهْلَ الذِّكْرِ فَإِذَا وَجَدُوا قَوْمًا يَذْكُرُونَ اللَّهَ تَنَادَوْا هَلُمُّوا إِلَى حَاجَتِكُمْ قَالَ فَيَحُفُّونَهُمْ بِأَجْنِحَتِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ مِنْهُمْ مَا يَقُولُ عِبَادِي قَالُوا يَقُولُونَ يُسَبِّحُونَكَ وَيُكَبِّرُونَكَ وَيَحْمَدُونَكَ وَيُمَجِّدُونَكَ قَالَ فَيَقُولُ هَلْ رَأَوْنِي قَالَ فَيَقُولُونَ لَا وَاللَّهِ مَا رَأَوْكَ قَالَ فَيَقُولُ وَكَيْفَ لَوْ رَأَوْنِي قَالَ يَقُولُونَ لَوْ رَأَوْكَ كَانُوا أَشَدَّ لَكَ عِبَادَةً وَأَشَدَّ لَكَ تَمْجِيدًا وَتَحْمِيدًا وَأَكْثَرَ لَكَ تَسْبِيحًا قَالَ يَقُولُ فَمَا يَسْأَلُونِي قَالَ يَسْأَلُونَكَ الْجَنَّةَ قَالَ يَقُولُ وَهَلْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَا وَاللَّهِ يَا رَبِّ مَا رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُ فَكَيْفَ لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا كَانُوا أَشَدَّ عَلَيْهَا حِرْصًا وَأَشَدَّ لَهَا طَلَبًا وَأَعْظَمَ فِيهَا رَغْبَةً قَالَ فَمِمَّ يَتَعَوَّذُونَ قَالَ يَقُولُونَ مِنْ النَّارِ قَالَ يَقُولُ وَهَلْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَا وَاللَّهِ يَا رَبِّ مَا رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُ فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا قَالَ يَقُولُونَ لَوْ رَأَوْهَا كَانُوا أَشَدَّ مِنْهَا فِرَارًا وَأَشَدَّ لَهَا مَخَافَةً قَالَ فَيَقُولُ فَأُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ قَالَ يَقُولُ مَلَكٌ مِنْ الْمَلَائِكَةِ فِيهِمْ فُلَانٌ لَيْسَ مِنْهُمْ إِنَّمَا جَاءَ لِحَاجَةٍ قَالَ هُمْ الْجُلَسَاءُ لَا يَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ».متفق علیه واللفظ للبخاري (۱۶ / ۲۰۲)

ژباړه: ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه د الله داسې ملائکې دي، چې په لارو کې گرځي د ذکر کوونکو د لټون لپاره. کله چې یو قوم وومي چې د الله ذکر کوي، یو بل ته وایي: راشئ خپلې اړتیا ته! او بیا را چاپیره شي ملائکې د دغې ذاکرینو څخه په خپلو وزرو سره او مخه وکړي د اسمان په لوري .( امام طیبي وایې چې ملائکې یو د بل دپاسه ودریږي ترڅو چې اسمان ته ورسیږي. [المرقاة :۸/ ۱۹]. نبي علیه السلام فرمایي چې بیا به الله تعالی له ملائکو څخه پوښتنه وکړي- حال داچې الله تعالی ښه پوهیږي له ملائکو څخه- زما بندگان څه وایي؟ نبي علیه السلام وایي چې ملائکې بهووایې دوی ستا تسبیح بیانوي او ستا لویي بیانوي او ستا حمد وایې او ستا عظمت بیانوي . نبي علیه السلام فرمایي چې بیا به الله تعالی ملائکو ته ووایې: آیا دوی زه لیدلی یم؟ (د سر په سترگو). نبي علیه السلام فرمایي: ملائکې به ووایې: نه! قسم په الله چې دوی ته نه یې لیدلي(دسر په سترگو) . نبي علیه السلام فرمایي: بیا به الله تعالی وفرمایې: څه حال به وای که چیرې دوی زه لیدلی وای؟ نبي علیه السلام فرمایي چې ملائکې به ووایي: که چیرې دوی ته لیدلی وای ؛ نو دوی به ډیر زیات ستا عبادت کولو او ډیر زیات به ستا د لویي بیانوونکي ؤ او ډیر زیات به ستا د حمد بیانوونکي ؤ او ډیر زیات به ستا د تسبیح ویونکي ؤ. نبي علیه السلام فرمایي: بیا به الله تعالی وفرمایي پس دوی زما څخه څه غواړي؟ نبي علیه السلام فرمایي چې ملائکې به ووایي: دوی ستا څخه جنت غواړي.نبي علیه السلام فرمایي چې بیا به الله تعالی وفرمایي: آیا دوی جنت لیدلی دی؟. نبي علیه السلام فرمایي چې ملائکې به ووایې: نه! دوی جنت نه لیدلی.

نبي علیه السلام فرمایي چې بیا به الله تعالی وفرمایي څه حال به ؤ که چیرې دوی جنت لیدلی وای؟ نبي علیه السلام فرمایې چې ملائکې به وایي: که چیرې دوی جنت لیدلای وای، نو دوی به ډیرزیات حرصناک وای په جنت باندې او ډیر زیات به د جنت په طلب کې وای او ډیر زیات به د جنت په رغبت کې وای. نبي علیه السلام فرمایي چې بیا به الله تعالی ملائکو ته وفرمایي: دوی د څه شی نه پناه غواړي؟ نبي علیه السلام فرمایي چې ملائکې به ووایي: دوی له جهنم څخه پناه غواړي.نبي علیه السلام فرمایې چې بیا به الله تعالی وفرمایي: آیا دوی جهنم لیدلی دی؟ نبي علیه السلام وایې چې ملائکې به ووایې: نه ! دوی جنهم نه دی لیدلی قسم په الله ای زمونږ ربه ! نبي علیه السلام فرمایي چې بیا به الله تعالی وفرمایې: څه حالت به ؤ که چیرې دوی جهنم لیدلی وای؟ نبي علیه السلام وایې چې ملائکې به ووایي: که چیرې دوی جهنم لیدلی وایې ؛ نو دوی به ډیر زیات د هغې څخه په تیښته کې ؤ او ډیر زیات به له جهنم څخه ویریدلی ؤ.

نبي علیه السلام فرمایې چې بیا به الله تعالی وفرمایي: پس زه تاسې شاهدانې گرځوم په دې خبره، چې ما دوی ته ښښنه وکړه. نبي علیه السلام وایې، چې د ملائکو څخه به یوه ملائکه ووایې چې په دوی کې یو شخص دی چې ددې ذاکرینو له جملې څخه نه دی، هغه د یو حاجت لپاره دلته راغلی دی؟ نبي علیه السلام فرمایي چې الله تعالي به وفرمایې: دوی مجلس کوونکي دي او بدبخته به نشي ددوی په وجه ددوی سره مجلس کوونکی شخص.المرقاة(۸/ ۲۱)

**۲- د نیکانو په ملګرتیا کې شرعي علم زده کیږي او د ژوند تیرولو لپاره سمه او سیده لار پیدا کیږي.**

د نیکانو او صالحینو سره د ملګرتیا له برکته د سړي په زړه کې د علم د طلب جذبه پیدا کیږي او دنیکانو سره دملګرتیا له برکته حلال او حرام پیژندل کیږي او په دین کې د تَفَقُّه حاصلیږي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سُنتو درست فهم انسان ته حاصلیږي او بالآخره مسلمان ته د ژوند تیرولو لپاره مستقیمه او سیده لاره پیدا کیږي.

د نیکانو او صالحینو د ملګرتیا بله ګټه داده چې نیکان او صالحین تاته ستا عقیدوي خطاګانې، په عباداتو کې خطاګانې، په اخلاقو او آدابو کې خطاګانې او د الفاظو او دکلماتو په ویلو کې خطاګانې در په ګوته کوي او ستا په تربیه کې له تا سره مرسته کوي.

کله چې د بني اسرائیلو یو شخص دموسی علیه السلام څخه وپوښتل چې( هَلْ تَعْلَمُ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْكَ قَالَ مُوسَى لَا.) آیا ته داسې څوک پیژنې، چې هغه دې ستا څخه ډیر پوهه وي؟ موسی علیه السلام ورته وفرمایل: نه! (زما څخه بل څوک پوهه نشته، نو الله تعالی وفرمایل: هو! شته د موسی علیه السلام څخه ډیر پوهه زما یو بنده شته چې حضرت خضر علیه السلام دی. صحیح البخاري ت (۱ /۷۸) نو الله جل جلاله حضرت موسی علیه السلام یو داسې شخص ته ورولیږه چې الله تعالی هغه ته علم لدُني ورکړي ؤ، ترڅو موسی علیه السلام ددې خبرې درس ورکړي چې د هرعالم د پاسه بل عالم تر هم شته. څکه چې موسی علیه السلام لویه دعوی کړی وه او الله تعالی دده د خطا د تصحیح لپاره د حضرت خضر علیه السلام شاګرد وګرځولو.

حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه به ویل:(من فقه الرجل ممشاه ومدخله ومخرجه ومجلسه مع أهل العلم). حلیة الأولیاء (۱ /۲۱۱)

ژباړه: د پوهې دانسان څخه د هغه تلل دي یا ځای د تللو دی او د هغه داخلیدل دي یا دداخلیدو ځای دی او د هغه ناسته له اهل علمو سره ده.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمایلي دي:(المتقون سادة، والفقهاء قادة ومجالسهم زیادة) . قال الهیثمي : ورجاله موثقون. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد:(۱۳٦/۱)

ژباړه: متقیان قدرمن او محترم خلک دي او فقهاء قائدین دي او ددوی سره ناسته بیا زیاتوالی دی.

لقمان حکیم رحمه الله به زوي ته ویل:(یا بني جالس العلماء وزاحمهم برکبتیك فإن الله یحیی القلوب بنور الحکمة کما یحیی الأرض بوابل المطر). الآداب الشرعیة (۲ /۱۲۰)

ژباړه: ای بچیه! علماوو سره کینه! او د هغوی په مجلس کې له هغوی سره کوښښ کوه په دواړو زنګنونو باندې ، بیشکه الله تعالی زړونه د حکمت په نور سره ژوندي کوي لکه څرنګه چې څمکه د باران په څاڅکو ژوندۍ کوي.

په یو روایت کې راځي :عن أنس بن مالك، قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : «إن لکل أمة رهبانیة، وإن رهبانیة أمتي الجماعات والجمعات وتعلیم بعضهم بعضا شرائع الدین». الفقیه والمتفقه للخطیب البغدادي (۱ /٥۲)

ژباړه: د حضرت انس بن مالک رضي الله څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشکه هر امت رهبانیت شته او زما دامت رهبانیت دلمانځه جماعتونه او دجُمعې ورځې جماعتونه دي او ښودل د بعضو دي بعضو نورو ته احکام ددین.

**۳-د نیکانو او صالحینو سره ملګرتیا او د هغوی سره ناسته کول او هغوی زیارت ته ورتلل د الله جل جلاله د محبت سبب دی.**

په یو قدسي حدیث شریف کې راځي: عن مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ قال فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَجَبَتْ مَحَبَّتِي لِلْمُتَحَابِّينَ فِيَّ وَالْمُتَجَالِسِينَ فِيَّ وَالْمُتَزَاوِرِينَ فِيَّ وَالْمُتَبَاذِلِينَ فِيَّ» موطأ مالك (٥ /۱۳۹۱)

ژباړه: د معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د نبي علیه السلام څخه اوریدلي دي چې هغه وفرمایل، چې الله تبارک وتعالی فرمایلي دي: لازم شوی دی محبت زما د هغو کسانو لپاره چې په خپلو منځو کې یو دبل سره محبت کوي زما د رضا په خاطر ، او د هغو مجلس کوونکو لپاره، چې یو د بل سره مجلس کوي زما د رضاپه خاطر، او د هغو زیارت کوونکو لپاره چې زما په خاطر یو د بل زیارت کوي او هغو کسانو لپاره چې یو پر بل خرچه کوي زما د رضا په خاطر.

**۴-د نیکانو او صالحینو سره په ملګرتیا کولو کې انسان د انحراف او بې لارې توب څخه نجات مومي.**

څوک چې د نیکانو سره ملګرتیا کوي او دهغوی مجلسونو ته حاضریږي دا کار انسان ته د انحراف او بې لارې توب څخه نجات ورکوي.ځکه چې هرکله څوک د نیکانو او صالحینو په ملګرتیا شامل وي، که چیرې له ده څخه خلاف شریعت کوم فعل یا قول صادریږي نیکان او صالحین هغه خپلې خطاء ته متوجه کوي او نصیحت ورکوي او نیغې لارې ته یې سیده کوي او نه یې پریږدي چې عقیدةً، عملاً او یا اخلاقاً د سمې لارې څخه منحرف شي.

الله تعالي فرمايلي دي: (وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ)[ التوبة: ۷۱]

ترجمه:او سړي مؤمنان او ښځې مؤمنانې ځینې ددوی دوستان دي د ځینو نورو، حکم کوي دوی په نیکیو (چې د الله او درسول الله اطاعت دی) ، او منع کوي له بدیو چې (د الله او د رسو الله نه مخالفت دی).

یو بل ته په نیکۍ امر او له بدۍ منع کول د مؤمنانو صفت ، مسئولیت او یو پر بل حق دی.

د همدې وجی نه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو مسلمان د بل مسلمان لپاره هینداره ګرځولی دی، ترڅو د هغه عیوب ورته په ګوته کړي او هغه اصلاح شي. په حدیث شریف کې راځي:عن أبی هريرة رضي الله عنه قال : ( المؤمن مرآة أخيه إذا رأى فيها عيبا أصلحه) حسن الإسناد .الأدب المفرد للبخاري، بالتعليقات (ص: ۵۲)

ژباړه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې مؤمن د خپل ورور آینه او هینداره ده ، کله چې په کې کوم عیب ووینئ ؛ نو هغه اصلاح کوي.

حسن بصري رحمه الله وايي:(المؤمنُ مرآةُ أخيه، إن رأى فيه مالا يعجبه سّدده، وقوّمه، وحاطه، وحفظه في السرِّ والعلانية).

ژباړه: مؤمن د خپل ورور لپاره هینداره او آینه ده، که چیرې په ده کې داسې څه ووینئ چې دده خوښ نه وي، نو هغه سیده کړي او برابر یې کړي او ورڅخه محافظت وکړي او حفاظت یې وکړي په پټه او په ښکاره کې. كتاب الإخوان لابن أبي الدنيا صـ (۱۳۱)، روضة العقلاء ونزهة الفضلاء،لابن حبان (ص: ۱۴۷)

امام علقمه عطاردي رحمه الله فرمايي: ( اصحب مَنْ إنْ صَحبتَهُ زانَك، وإن أصابتك خَصاصةٌ عانك، وإن قُلتَ سدَّد مقالك، وإن رأى منك حسنةً عدَّها، وإن بدت منك ثُلمةٌ سدَّها، وإن سألته أعطاك، وإذا نزلَت بك مهمَّةٌ واساك ).

ژباړه: د هغه چا سره ملګرتیا کوه چې کله ورسره ملګری شوې ستا قدر وکړي او که چیرې درته کومه تنګي ورسیده ، نو مرسته درسره وکړي او که چیرې ته کومه (خطا) خبره وکړې، نو ستا خبره سمه کړي او که چیرې در څخه نیکي ووینې هغه حسابوي او که چیرې ستا څخه کوم ښکاره شي کوم کنډو (خلا) ،نو هغه بندوي او که چیرې ته ورڅخه څه وغواړئ تاته یې درکړي او که چیرې په تا باندې کوم مصیبت نازل شي ، ستا حمایت وکړي.

**۵-د نیکانو او صالحینو ملګرتیا د تربیت او اقتداء مدرسه ده.**

دنیکانو او صالحینو سره ملګرتیا او د صالحانو سره ناسته ولاړه ددې باعث ګرځي چې انسان د هغوی په شان په ځان کې غوره او عالي اخلاق پیداکړي، لکه ایثار، قرباني، په عبادت کې اخلاص او نور غوره صفات ، ځکه چې د نیکانو او صالحینو سره ژوند تیرول په حقیقت کې په مدرسه کې ژوند تیرول دي، چې مسلمان په کې ددیني او دُنیوي اموراتو سره تعامل زده کوي. د نیکانو او صالحینو سره مجالس او له هغوی سره طولاني ملګرتیا ددې سبب ګرځي، چې مسلمان د هغوی د اعمالو او افعالو ، کړو وړو، چال چلند پیروي وکړي او د هغوی په کړو وړ پسې اقتداء وکړي. ډیر وخت د نیکانو او صالحینو ملګري کوښښ کوي چې د هغوی په پَل خپل پَل کیږدي او هڅه کې وي چې د هغوی په شان خپل ځان جوړ کړي او د هغوی په شان نیکۍ ته ملا وتړي ترڅو د هغو سره برابرشي او یا له هغوی څخه هم په نیکیو کې مخکې شي ، ځکه چې د نیکانو سره په ملګرتیا کې د انسان په باطن کې د نیکو اعمالو په انجام کې یو ډول تنافس پیدا کیږي. أدب الدنيا والدين، للماوردي (ص: ١٣٠)

**٦-د نیکانو او صالحینو سره ملګرتیا په نیکیو باندې د همیشه والي او استمرار سره مرسته کوي.**

د نیکانو او صالحینو سره ملګرتیا کول په دومداره توګه د نیکیو په انجامولو کې مرسته کوي. کله چې انسان خپل دوستان وګوري چې په طاعت ولاړ دي ؛ انسان ته په زړه کې یو ډول خجالت پیدا کیږي او ځان په طاعت کې مقصر بولي.که څوک وغواړې چې په دوامداره توګه د الله تعالی طاعت وکړې ،نو د نیکانو او صالحینو سره دې ملګرتیا اختیار کړي. په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنَ النَّاسِ مَفَاتِيحَ لِلْخَيْرِ، مَغَالِيقَ لِلشَّرِّ، وَإِنَّ مِنَ النَّاسِ مَفَاتِيحَ لِلشَّرِّ مَغَالِيقَ لِلْخَيْرِ» ابن ماجه (١ /٨٦)

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشکه ځینې د خلکو څخه کیلیانې(کونجیانې) د خیر دی او بندوونکي دي د شر او بیشکه ځینې د خلکو څخه کیلیانې(کونجیانې) دي د شر او بندوونکي دي د خیر. یعنې ځینې خلک سبب د خیر دی او ځینې خلک سبب د شر دي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخِيَارِكُمْ؟ قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: الَّذِينَ إِذَا رُؤُوا، ذُكِرَ اللهُ تَعَالَى». مسند أحمد ط الرسالة (٤٥ /٥٧٥)

ژباړه: د اسماء بنت یزید رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه وایې چې بیشکه نبي علیه السلام وفرمایل: آیا زه تاسې خبر نکړم په هغه غوره شخص د ستاسو څخه ؟ صحابه کرامو وویل: خبر مو کړه ای دالله رسوله! نبي علیه السلام وفرمایل: (غوره په تاسو کې) هغه کسان دي چې هرکله ولیدل شي ، نو د الله تعالی یاد او ذکر وکړل شي. یعنې د هغو د لیدلو له امله انسان ته دالله تعالی ذکر او عبادت ور په یاد شي.

علامه مناوي رح ددې حدیث په معنا کې وایې: کله چې داسې کسان نور خلک ووینې چې د هغوی په لیدلو سره ورته الله تعالی ورياد شي او د الله عبادت او ذکر وکړي، ځکه چې د هغوی په صفاتو کې صلاح او د اولیاوو علامات موجودوي او په هغوی کې د غوره خلکو روشنایي موجوده وي. فيض القدير (٢ /٥٢٨)

درنو مسلمانانو خپله هم د نیکانو او صالحینو ملګرتیا اختیار کړي او خپل بچي او اولادونه هم د نیکانو او صحالینو مجالسو ته ورولیږئ، د هغوی په ملګرتیا ورته توصیه او نصحیت وکړئ، ځکه چې په دې کې ستاسو او ستاسو د اولادونو لپاره دهر ډول ګمراهۍ، بې لارې توب څخه نجات پروت دی.

**د ګاونډيو هيوادونو څخه د راويستل شوو مهاجرينو سره هر ډول مرسته، خواخوږي او همکاري د حکومت او ملت ګډ مسئوليت دی.**

**درنو هيوادوالو !**

مونږ او تاسې ټول خبر يو چې په دې وروستيو ورځو کې د ګاونډيو هيوادونو څخه بالخصوص د اير ان هيواد څخه افغان مهاجرين په ډير بد حالت کې راويستل شوي دي او دا لړۍ دوام لري، چې دا کار د همسايه توب او ټولو بين المللي قوانينو خلاف عمل دی.

مونږ پر ټولو افغانانو که هغه ايراني مرز ته نږدې ولايتونو کې اوسيږي او که د ايراني مرزونو څخه په ليرې ولايتونو کې اوسيږي، که هغه بډايا اشخاص دي او که د عادي اقتصاد خاوندان دي، چې د مهاجرينو دغه بد حالت ته رسيدګي وکړئ او له هغوی څخه هيڅ ډول مرسته ، کومک او همکاري ونه سپموئ. د ګاونډيو هيوادونو څخه راويستل شوي مهاجرين په داسې حالت کې راويستل شوي دي، چې د هغوی مال، سرمايه او حتی د کور د ضرورت وسائل هم ورځخه په ايران کې پاتې شوي دي .له دوکاندارانو دوکانونه پاتې دي، له تاجرانو تجارت پاتې دی، له غريب کار څخه د مزدورۍ پيسې پاتې دي او په دوی کې داسې مهاجرين هم زيات شته، چې ايران پوليسو د کور زنانه او ماشومان له کور څخه رابار کړي دي ؛ خو د کور سرپرستان ورځخه خبر نه دي.

د ګاونډيو هيوادونو څخه راويستل شوي مهاجرينو لاسنيوی او له هغوی سره هر ډول مرسته دافغانستان دولت او ملت ګډ مسئوليت دی.

د مهاجرينو موضوع د افغانستان ولس لپاره يو ناورين او د ژوند سخته شيبه ده. بناءً مونږ د هيواد پر ټول ولس باندې غږ کوو چې د خپلو ورونو مرستې لپاره ميدان ته را مخ ته شي او د دوی سره د خپل توان په اندازه په هر ممکن صورت کې چې وي، کومک او مرسته وکړئ.

د ګاونډيو هيوادونو څخه د راويستل شوو مهاجرينو مثال د هغو مسافرو دی، چې په سفر کې له ځان سره هيڅ توخه نلري او د ژوند کولو لپاره د نورو مرستو ته سترګې په لار وي. له ګاونډيو هيوادونو څخه جبراً راويستل شوي مهاجرين داسې حالت لري، چې پرته د ځان د تن له جامو څخه نور هيڅ شی نلري، هيواد ته په راستانه شوي مهاجرينو کې زنانه، ماشومان ، سپين ږيري، بوډاګان او مريضان موجوددي، چې عاجلو مرستو، همکاريو او خواخوږۍ ته اشد ضرورت لري او په کار ده چې ملت او دولت په شريکه د ددغو مهاجرينو مشکلاتو ته رسيدګي وکړي.

دا زمونږ ديني او ملي وظيفه ده چې د مشکل پر وخت خپل مسلمان ورور ته د مرستې لاس ورکړو او په مشکل کې يې يواځې پرينږدو.

الله جل جلاله په سختيو کې راګيرو او بيوزلو خلکو سره د مرستې په باره کې فرمايلي دي: {فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ * وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ * فَكُّ رَقَبَةٍ * أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ * يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ * أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ * ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ * أُولَئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ}[ البلد: ١١-١٢]

ترجمه: نو ده دغونډۍ په ختلو کې هيڅ تکليف ونه ويست او ته څه شي پوه کړئ چې (ختل) د غونډۍ څه شی دی، خلاصول دځټ (آزادول د مري) دي او طعام ورکول دي په ورځ ولګې کې او په ورځ د سختۍ کې ، هغه يتيم ته چې د خپلولی خاوند وي ياهغه مسکين ته چې په خاورو ککړ وي . بيا دغه د هغو کسانو ځينې وي چې ايمان يې راوړی وي او يو بل ته د صبر وصيت کوي او يو بل ته د مهربانۍ (او شفقت) کولو وصيت کوي دغه کسان د ښي اړخ والا دي.(جنتيان دي)

مفسرينو کرامو د { أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ } ترجمه په لوږه او سخته باندې کړی ده. تفسير القرطبي (٢٠/ ٦٩)

قرآن کريم الله تعالی د مسلمانانو داسې صفت بيانوي:{وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ } [الحشر: ٩]

ترجمه: او (حقيقي مؤمنان) هغه کسان دي چې په خپلو ځانونو باندې نورو ته ترجيح ورکوي ، اګر که په دوی باندې تنګي هم (او حاجت مندي) وي.

ددې آيت په تفسير کې امام ماوردي ليکي دي: روى ابن زيد أن النبي صلى الله عليه وسلم قال لهم :« إن إخوانكم تركوا الأموال والأولاد وخرجوا إليكم» فقالوا : أموالنا بينهم قطائع ، فقال :« أو غير ذلك » فقالوا : وما ذاك يا رسول الله ؟ فقال : « هم قوم لا يعرفون العمل فتكفونهم وتقاسمونهم التمر . قالوا نعم يا رسول الله» . تفسير النكت والعيون ـ (٥ /٥٠٦)

ژباړه: له ابن زید رضی الله عنه روایت دی هغه وایې، چې بیشکه نبي علیهم السلام د مدینې انصارو ته وفرمایل: بیشکه ستاسو ورونو(مهاجرینو) خپل مالونه او اولادونه پرېښي او تاسو ته راغلي دي. انصارو وویل: زمونږ مالونه ددوی سره تقسیم دي. نبي علیه السلام وفرمایل: آیا ددینه علاوه نور څه کولای شئ؟ انصارو وویل: هغه څرنګه یارسول الله ! نبي علیه السلام ورته وفرمایل: دوی (مهاجرین) داسې خلک دي چې په (په باغونو) کې په کار کولو نه پوهیږي ، نو تاسو به ددوی په عوض کې کار وکړئ او بیا به ورسره خرما تقسیم کړئ. انصارو وویل: سمه ده ای د الله رسوله! .

نن ورځ لکه د مدینې د مهاجرینو او دانصارو د ورځو په شان ورځې دي او په کار ده چې مونږ لکه د هغوی په څیر خپله ډوډۍ او مړۍ له دوی سره نیم کړو. په یو حدیث شریف کې راځي، چې د مسلمانی تقاضا داده چې یو مسلمان به بل مسلمان په سختۍ او مشکل کې یواځې نه پرېږدي؛ بلکې ورسره مرسته کوي او له سختۍ څخه به یې را باسي:(الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ). صحيح البخاري (٦/ ٢٢٧)

ترجمه: مسلمان د مسلمان ورور دی نه به وربانديې ظلم کوي او نه به یې سپاري دښمن ته یا مشکل ته (یعنې په سخته کې به یې یواځې نه پرېږدي) او څوک چې دخپل ورور په حاجت کې وي، الله تعالی به دده په حاجت کې وي.

داسلام د مقدس دین له نظره مسلمانان لکه د یو جسم حیثیت لري او کله چې د جسم یو غړي ته درد ورسیږي ؛ نو دجسم نور غړي ورسره په درد کې ملتیا کوي یعنې نور غړي هم نا ارامه وي. په یوحدیث شریف کې راځي:(مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِم وَتَرَاحُمِهِم وَتَعَاطُفِهِم مَثَلُ الجَسَدِ، إِذَا اشتَكَي مِنهُ عُضوٌ تَدَاعَي لَهُ سَائِرُ الجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالحُمَّي). رواه مسلم

ترجمه: د مؤمنانو مثال په خپلو منځونو کې په محبت او مهربانۍ او شفقت کې د یوه بدن په څیر دی چې کله یو غړی له بدن څخه په درد شي، نو د بدن نور غړي یو بل دده سره د همغږۍ لپاره بې خوابۍ او تبې ته رابولي .

په اسلام کې د مظلوم، مصیب زده ، غمزده او په سختیو کې د راګیر مسلمان سره مرسته کول د عبادت یو ډول دی.

هیواد ته راستنیدونکي مهاجرین نغدو پیسو ته هم ضرورت لري، کور ته او سرپناه ته هم ضرورت لري، خوراکي او غذائي توکو ته هم ضرورت لري، بسترو ، کمپلو او د اخلي بخلي لوخو ته هم ضرورت لري او هم د تن جامو ته ضرورت لري ، د اکثرو روغتیایي او روحي حالت ډیر وخیم وي او دوی هم علاج او معالجې ته ضرورت لري.

هیواد ته د راستنیدونکو مهاجرینو سره هر ډول خواخوږي او همکاري زمونږ د ټولو ولس اسلامي او ایماني دنده ده.

د راویستل شوو مهاجرینو سره هر ډول مرسته کول، لکه هغوی ته موټر برابرول، هغوی ته خوراک او ډوډۍ برابرول، هغوی ته دځښاک اوبه برابرول، هغوی ته په خپلو کورونو، هوټلونو او میلمستونو کې د شپې تیرولو لپاره ځای ورکول، که هغوی مریضان وي هغوی ډاکټر ته رسول دا ټول په صدقه کې شامل دي.د ګاونډیو هیوادونو څخه د راستانه شوو مهاجرینو سره مرسته او همکاري کول او له هغوی څخه ولږه لرې کول په دین کې د ډیرو غوره اعمالو څخه دي او د هغوی حاجتونه پوره کول له نفلي اعتکاف څخه غوره دی، ځکه چې هغوی په ډیره سختۍ او تکلیف کې قرار لري. په یو روایت کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:« وَلأَنْ أَمْشِيَ مَعَ أَخٍ لِي فِي حَاجَةٍ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَعْتَكِفَ فِي هَذَا الْمَسْجِدِ، يَعْنِي مَسْجِدَ الْمَدِينَةِ، شَهْرًا» قضاء الحوائج لابن أبى الدنيا بسند حسن (ص: ٤٧)، المعجم الأوسط (٦/ ١٣٩)

**اقولي قولي هذا، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**